# د یوناما خبری کنفرانس

د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی


د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: http://unama.unmissions.org


رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**نورا نایلند د یوناما د بشری حقونو د دفتر رئیسی ،**

**عبدالاحد ضیا مبلغ ، د بشری حقونو دپاره د دموکراتیک ودی د نړیوالی مرکز سرپرست،**

**علیم صدیق، د یوناما ویاند**

*کابل- دوشنبه د نومبرد میاشتی ۳۰ نیټه، کال ۲۰۰۹*

**د جنسيتی خشونت په وړاندي د ۱۶ ورځني فعاليت لپاره د بحث موضوعات**

**نورا نايلند د یوناما د بشری حقونو د دفتر رئيسی ،** سهار مو نيکمرغه. نن ورځ مونږ غواړو چي د دي غونډي، مطبوعاتی کنفرانس څخه په ګټي اخيستنی سره د جنسيتی تاوتريخوالی په وړاندي د ۱۶ ورځني فعاليت؛ چي په نړيواله کچه يي يادونه کيږي د افغانستان د ګډون پر اهميت وغږيږو. دغه نړيوال کمپاين چي د نومبر د ۲۵ نيټي څخه چي د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالی د پای ته رسولو نړيواله ورځ ده، پيل او تر دسمبر د ۱۰ نيټی پوري چي د بشري حقونو نړيواله ورځ ده دوام کوي، او دا د پام وړيوه يادونه ده چي د ښځو حقونه نړيوال بشري حقونه دي. په ټوليزه توګه کله چي تمرکز پر ښځو دی نو دغه کمپاين د بيلابيلو شريکانو او برخه والو لپاره يو فرصت دی چي هغه ورځني عام تاوتريخوالو چلينج کړي چي ښځی يی تحمل کوي.

د سږ کال د کمپاين موضوع ده ژمنه، عمل – غوښتنه: مونږ کولای شو د ښځو په وړاندي تاوتريخوالی پای ته ورسوو. په دی برخه کي رسنی ډيره مهمه دنده لري څو خپل نقش ولوبوي. دا ډيره ښه ده چي ډير کسان ستاسو له ډلي څخه دلته ګورو. څو مياشتي وړاندي مونږ يو ريوټ خپور کړ چي خاموشي تاوتريخوالی دی تر نامه لاندي وو: په افغانستان کي د ښځو په وړاندي تيری بايد پای ته ورسول شی.؛ دغه څيړنه کي چي پر بنسټ يي معلومات تر لاسه شوي دي دا په ډاګه کوي چي هغه ډول تاوتريخوالی چي په کي ښځی او نجونی هدف ګرځيدلی دي ډير پراخه دی او په ژوره توګه په افغاني ټولنه او فرهنګي نورمونو کي يي ځای نيولی دی. که څه هم د دغه ډول تاوتريخوالی څخه په ځرګنده ډول سترګي نه شي پټيدلای، خو نه هغه په پوره ډول چلنيج شوی دی او نه هم غندل شوی دی، او نه هم د ټولنی او په پراخه پيمانه د دولتي موسسو له خوا يي غندنه شوي ده.

په ټوليز ژوند کي د ښځو په وړاندي د تاوتريخوالی د زياتوالی جريان د دي شاخص دی چي د پريکړو په بهيرونو، اقتصادی، او ټولنيز ژوند، پرمختيا او همدارنګه د سولي او ټيکاو د حلولو په برخه کي د ښځو اساسی دنده نه يواځي په افغاني ټولنه کي، په پوره توګه نه د ه منل شوي بلکي ورته ارزښت نه دی ورکړل شوی. زمونږ په ساحوي څيړنو کي دا جوته شوه چي د ښځو لپاره سياسی فضاء د هغو کسانو په ګډون چي غواړي د خپلو حقونو لپاره مدافعه وکړي، په کمښت کي ده. ځرګنده ده چي دا غير عملی ده څو د پام وړ هغي ټولنيزی او اقتصادی پرمختيا وړاندوينه وشي کله چي د ټولني نيمايی برخه له پامه وغورځول شی، او يا دا چي هغه د بی وزلی د کمښت بيا رغوني او يا هم پرمختيايي پروژو لپاره د ګډون امکانات و نه لري.

زمونږ په ساحوي څيړنه کي دا هم ځرګنده شوه چي د ښځو سره د جنسی تيريو د پيښو ډيرلږ ريوټ ورکړل کيږی او هغه پټ پاتي کيږی او دا د افغانستان لپاره يوه ستره ستونزه ده. دا د ټولنی ټولی برخي ، ټولي ټولني او ټولي ټولنيزی ډلی اغيزمنوي. دا د بشري حقونو ستونزه ده چي ژوري همکاری ته اړتيا لري.

ښځی او نجونی په خپلو کورونو، کليو او توقيف ځايونو کي د جنسی تيری د ګواښ سره مخ دي. جنسی تيری په افغانستان پوري منحصره او ځانګړي پديده نه ده خو دا په دي هيواد کي ټولنيزه سياسی زمينه او شرايط، ځانګړی مشخصات لري چي دغه ستونزه يي زياته کړی ده. قربانيان اکثره وخت تر تعقيب لاندی راځي چي د زناء د اتهام سره مخ شوي دي چي د بی عفتی جرم ګڼل کيږی.

د ګڼ شمیر قربانیانو لپاره د دې ډېر امکانات نه شته چې عدالت ته ورسیږي. د ۱۹۷۶ کال د افغانستان د جزاء په قانون کې په څرګند ډول داسی موارد نشته چې په هغه کې جنسی تیری جرم ګڼل شوی وي. په دې ډول ملګري ملتونو د دی وړاندیز وکړ چې د ښځو په وړاندي د ښځو سره د تاوتریخوالی د منع کولو په قانون کې د جنسی تیری په اړوند څرګنده اشاره وشي چې په هغه کې د جنسی تجاوز په اړه د نړیوال قانون سره په سمون کې واضح تعریف شتون ولري او دولت د دې لپاره مسوول وي چې د دغه ناوړه جرم مخنیوي وکړي.

ملګري ملتونه په افغانستان کې د یو لړ پراخو هغو فعالیتونو ملاتړ کوي چې ورسره عامه پوهاوي زیات شي او د دي په څنګ کې د دغې ستونزې خواته توجه راواړوي چې هغه عامه ده خو په بیلابیلو ځایونو کې یې مشخصات ځانګړی دي.

دلته په افغانستان کې د ښځو په وړاندي تاوتریخوالی د فرهنګی دود او دستور څخه جلا نه دی چې په هغه کې د ښځو تجریدول او د هغو په وړاندي تبعیض شته. د ښځو په وړاندي خشونت په ټولنیزو اقتصادی شرایطو کې شته چې ښځو ته په کمه سترګه کتل کیږي او تر یوې زیاتې اندازې د هغوی د بشري حقونو پوره درناوي نه کیږي. افغانانی میرمنی همدارنګه د هغه خشونت سره مخې دي چې ورته د جنګی نښتو له امله په میراث رسیدلی دی، د دي تر څنګ لا قانونیت او د جرمونو شتون چې په پراخه پیمانه د معافیت د فرهنګ سره نږدې تړاو لري.

دغه د ۱۶ ورځو کمپاین یو فرصت دی چې د محلی نوښتونو څخه ملاتړ وشي او په نړیواله کچه دې ته پام راواړول شي چې د ښځو په وړاندي تاوتریخوالی پای ته ورسول شي. د دي سربیره د کمپاین دغه موده د دی لپاره یو فرصت دي چې دی ته انعکاس ورکړای شی د هغو هلو ځلو ارزونه وشی چې ورځخه په روانو او یا دراتلونکو ستراتیژی ګانو په برخه کې ګټه واخیستل شي او په پخوانیو تجربو باندي تکیه وشي.

ملګري ملتونه او دهغه بیلابیل همکاران، که د دولت په دننه کې دی او یا هم د دولت څخه بهر، د ټول کال په دوران کې کار کوي څو په دي اړوند خبرتیا او پوهاوي زیات کړي چې هغه زیان او تاوان چې د قربانیانو او د دوی کورنیو ته د خشونت سره د مخ کیدو پر مهال رسیږي، جبران کړي. په دي اړه هم اقدامات شوي دي څو د افغانستان هغه ژمنې لا اغیزمنی شي چې د بشری حقونو د نړیوال تړون د مکلفیتونو په رڼا کې یې کړي دي او همدارنګه د عمل د هغو کړنلارو او نوښتونو د کوربه په توګه چې وکړای شی د خشونت د هغو اعمالو په وړاندي غبرګون څرګند کړي چې د ښځو په وړاندي د کور دننه او یا هم د کور څخه بهر تر سره کیږي.

په عام ډول رپوټ ورکول که څه هم هغه د ملګرو ملتونو، غیر دولتی موسسو، د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون، د رسنیو د فعالینو او یا د نورو له خواوي کولای شی چې د ځانګړو قضیو د جریاناتو په رابرسیره کولو او د تاوتریخوالی د پیښو د مخنیوي په لار کې ستره ونډه تر سره کړي.

په پای کې باید وویل شي چې د دي ډېر قوي مدارک شته چې خاموشي د خشونت د سرته رسولو سره مرسته کوي. دلته د ملګرو ملتونو د سرمنشی د وینا څخه نقل قول دي چې: ،،د ښځو په وړاندي خشونت هیڅکله د منلو وړ نه دي، هیڅکله هم د معافولو وړ نه دي او نه هم د زغملو وړ دي.،، دا ډېر اهمیت لري چې په عام او څرګند ډول د ښځو او نجونو په وړاندي د هر ډول خشونت غندنه وشي. دا هم د دي سره یو شان د اهمیت وړ مسله ده چې یو داسی چاپیریال رامنځته شي چې هغه جنسی تیری منعه کړي او د هغه عاملان حساب ورکولو ته اړکړاي شي.

د دي لپاره چي پر مخ ولاړ شو نو دا کار باید په کور کې د مور او پلار، وروڼو، خویندو، زامنو او لوڼو څخه پیل شی. دیموکراسی او سوله په افغانستان کې د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالی د له منځه وړلو او په ژوند کې د هغوي د پوره ګډون سره تړلی ده، ځو چي ښځې د نارینه وو په شان د پریکړو کولو په هغو پروسه کې چي د وګړو او د ملت راتلونکې ژوند اغیزمن کوي، ګډون وکړي.

ستاسو له توجه څخه مننه!

**عبدالاحد ضیا مبلغ ، د بشری حقونو دپاره د دموکراتیک ودی د نړیوالی مرکز سرپرست،**

د ښځو پر ضد د تاوتریخوالي له منځه وړلو پرته رښتینې سوله او ملي پراختیا ناشوني ده . د تېرو کلونو په اوږدو کې د افغانستان دولت د ښځو پر ضد د تبعیض او تاو ترېخوالی د له منځه وړلو لپاره یو لړ اقدامات تر لاس لاندې نیولی دي. د برابرو حقونو او مکلفیتونو ډاډمن کول، او په اساسي قانون کې د نه تبعیض پر اصل باندې ټینګار، او د ښځو د سیاسي ګډون ملاتړ او هغوي ته په ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو کې د سهمیې ورکول، "د ښځو پر ضد د تاوتریخوالی ممنوعیت" د قانون توشیح او خپرونه، او ځانګړي اقدامات لکه: د شخصیه احوالو د ځانګړی محکمې جوړول، او د وزارتونو په چوکاټ کې د جنډر د واحدونو، یونټونو جوړول، د ښځو پر ضد د تبعیض او تاوتریخوالی له منځه وړلو کې د دولت له ارزښتناکو فعالیتونو څخه شمېرل کېږي.

د ښځو پر ضد د تاوتریخوالی د ممنوعیت قانون چي د مدني ټولني، ملګرو ملتونو، او نورو ملي او بین المللی ارګانونو په نېږدی همکاری کې تسوید شوی و، د تاوتریخوالی د ختمولو لپاره تر ټولو لویه لاسته راوړنه ده. خو البته قانون تر هغه وخته چي عملي بڼه غوره نه کړي، ګټور نه شي ثابتیدلای. خو بیا هم دا قانون له ټولو کمښتونو او تشو سره سره، ټولو اړوندو ارګانونو، او وګړو او سرغړونکیو ته پرېکنده پیغام لري او هغه دا چي پس له دي نه د ښځو په مقابل کې تاوتریخوالی جرم دی او هیڅوک له مجازات څخه خوندي نه دی. دا قانون همدارنګه ښځو ته د خپلو حقونو د مستقلانه ګټه اخیستنې ډاډ ورکوي او د دې ګټې اخیستنې په وړاندی هر ډول وضع شوی محدودیت جرم ګڼي او مجرمینو ته یې سزاګانی په نظر کې نیولي دي.

په داسي حالت کې چي د ښځو په مقابل کې د تاوتریخوالی دله منځه وړلو نړیواله ورځ یوه غوره فرصت دی څو د ښځو به مقابل کې د تاوتریخوالی پرضد د افغانستان د ملت او دولت پر ژمنو بیا ټینګار وشي.

لکه څرنګه چي د افغانستان دولت په خپل دوره اي رپوټ کې بشري حقونو ته اشاره کوي، خو سره له دې چي اساسي قانون د ښځو په مقابل کې د تبعیض د ممنوعیت په اړه خورا صراحت لري، خو "لا تر اوسه پوري د ښځو او ماشومانو په وړاندې له تبعیض څخه کار اخیستل کېږي." او لا تر اوسه پوري هغه ننګوني چي په دې رپوټ کې یی یاد کړي دي ، چي د هغو له جملې څخه "له قانون څخه د دولتی ارګانونو سرغړوني" هم شامل دي، د ښځو ته د خپلو حقونو د ګټې اخیستنې په مقابل کې خنډ دي او "د ښځو او ماشومانو پر ضد

تاوتریخوالی" لا تر اوسه پورې کم شوی نه دی. د ښځو د مدني، ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي، او فرهنګي حقونو د ګټې اخیستنې په وړاندې خنډونه او محدودیتونه، او همدارنګه تاوتریخوالی، او زور کارول، او په ټولنیزو او خصوصي چاپیریالونو کې د جنسي آزار او اذیت د نوموړیو سرغړونو وتلې بیلګې شمیرل کیږي.

هغه ښځې چې په ټولنه کې د خپلو حقونو د لاسته راوړلو په لټه کې دي، له راز راز تاوترخوالو، تهدید، اذیت او آزار او بالاخره فیزیکي حملو سره مخامخ کیږي. د ښځینه ښوونځیو ویجاړول، ثبت شوی قتلونه، او له تیزابو څخه کار اخیستل، او همدارنګه هغه وژني چې د ناموس په نامه تر سره کیږي، یوازې هغه تاوتریخوالی څرګندوي چې ښځې د کور په چاپیریال کې ورسره مخامخ دي. ټول دا جنایتونه د دې سبب ګرځي چې ډیری ښځې له خپلو حقونو څخه سترګې پټې کړي او کور پرې نه ږدي. دغه پروسه نه یوازې د تاوتریخوالی د زیاتوالی سبب ګرځي، بلکې په ټولنیزو چارو کې د ښځو ګډون او همدارنګه د هیواد د بشري پراختیا پروسې د خنډ سره مخامخوي.

د مدني حقونو په برخه کې ډیر داسې قضیې شته چې د ښځو د واده د حق په مقابل کې د محدودیتونو څخه حکایت لري، چې ان کله ښځه د جنسونو په مقابل کې تبادله کیږي. دا راز دودونه او رواجونه د ښځو له انساني کرامت سره په ټکر کې دي او د قرآنکریم د احکامو سره هم هیڅ ډول سمون نه لري. همدارنګه، وهل، ټکول، لانجه، شکنجه او په خصوصي چاپیریال کې د ښځو په مقابل کې د نارینه و له خوا غیر انساني چلندونه ډیر شایع دی چې دا په خپله د قرآن کریم له فرمانونو څخه سرغړونه ده چې د کورنۍ په چاپیریال کې په مینه مودت او رحمت باندې ټینګار لري.

په اقتصادي چارو کې هم د محدویتونو له امله د ښځو حقونه ضایع کیږي. د کار څخه منع کول، او د مالکیت په مقابل کې محدودیت او د میراث له حقونو څخه بې برخې کېدل ډیر شایع دي. دا ډول تاوتریخوالی د ښځو د اساسي حقونو د نقض کولو سربیره د فقر او بی وزلې سبب هم ګرځي.

د تاوتریخوالی ورکول، د یوې پروسې په ډول، فعالیت او برنامه ریزي ته اړتیا لري، او په دې لاره کې باید ټول دولتي امکانات وکارول شي. خو هیله ده چې د ښځو پرضد د تاوتریخوالی د ورکولو نړیوال کمپاین څخه په استفادې سره لاندې موضوعګانو ته توجه وشي:

- له هغه ځایه چې د ښځو په مقابل کې تاوتریخوالی تر ټولو ستر جنسیتي تبعیض شمیرل کیږي، د افغانستان دولت باید خپل ټول امکانات د اساسي قانون د ۲۲ مادې احکام چې د ښځو په مقابل کې د تبعیض د ورکولو په هکله صراحت لري، او همدارنګه د اړوندو نړیوالو کنوانسیونونو او میثاقونو لکه: د ښځو په مقابل کې د هر ډول تبعیض له منځه وړلو کنوانسیون، او همدارنګه د افغانستان د ملي پراختیا استراتیژي او د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان، د احکامو د پلي کولو لپاره به هغوی منظم متحرک کړي.

- عدلي سکتور باید ښځې د قاضیانو، پولیسو، سارنوالانو، او مدافع وکیلانو په ډول استخدام کړي او ښځو ته د تاوتریخوالو د رسیدنې په ابتکاراتو کې لا نور وتلی رول ورکړي.

- د افغانستان سترې محکمې دې د تاوتریخوالی قربانیانو ته او په ځانګړی توګه د کورنۍ د تاوتریخوالو قربانیانو ته عدالت ته د لاسرسی زمینه برابره کړي او د اداري فساد په ورکولو سره، د ښځو لپاره عدلي او قضايي سیستم یو پیاوړی او تشویقوونکی چاپیریال جوړ کړي.

- د افغانستان ملي شورا د ښځو په مقابل کې د تاوتریخوالو د ممنوعیت د تصوبیولو، او د کورنی په قانون کې د اصلاحاتو د راوستلو، او په قوانینو کې د تبعیض د ورکولو، او د هغې بودجې چې د جندر مسایلو په اړه ځواب ویونکی وي له نظارت کولو له لاری د تاوتریخوالی د قرباني شوو ښځو بیدریغه ملاتړ وکړي.

- پولیس او څارنوالي دې د ښځو په مقابل کې د تاوتریخوالی ممنوعیت د قانون، او د جزا د قانون د احکامو په پلي کولو سره د ښځو پر ضد د تاوتریخوالی هغه مصوو نیت له منځه یوسي او دښځو امنیت هم په ټولنیز چاپیریال کې او هم په خصوصي چاپیریال کې تامین کړي.

- د ښځو د چارو وزارت د ښځو پرضد د تاوتریخوالی د ممنوعیت قانون د احکامو سره سم، زر تر زره د ښځو پرضد د تاوتریخوالی د ممنوعیت کمیسیون تشکیل کړي او خپل نظارتي او اجرایی دندې تر سره کړي او ښځو ته د دې قانون د مفاداتو د ګټې اخیستنې زمینه برابره کړي.

- د افغانستان بین المللي ارګانونه او مدنی نهادونه دې په بشپړ همغږۍ سره د ښځو پر ضد د تاوتریخوالی په اړه ځانګیز د پوهاوی پروګرامونو کې زیاتوالی راولي او داسي امکانات په لرې پرتو سیمو کې برابر کړي چې د تاوتریخوالی د ممنوعیت قانون او د نورو قوانینو څخه د تبیعضونو د لیری کولو د پوهاوی زمینه برابره کړي.

- همدارنګه د ښځو په مقابل کې د تاوتریخوالی ورکول، پرته له ملي ارادې، او په ځانګړې توګه د نارینه و له خوا ممکن نه دی، نو په دې اساس، او په دې پروسو کې د نارینه وو د برخې اخیستنې د پوهاوی کمپاینونه د دولتي او نادولتي بنسټونو له خوا پیاوړی شي.

## پوښتنې او ځوابونه

**د آزادی اروپا راډیو/ راډیو آزادی:** زما لومړنی پوښتنه د ښاغلی مبلغ څخه ده. داسې وویل شو چې ځینې لوړ پوری چارواکي د ښځو په وړاندې به خشونت کې لاس لري. آیا تاسو دغه ډول څه معلومات لرئ؟ او زما دوهمه پوښتنه د ښاغلی علیم صدیق څخه د نوي کابینې په اړه ده. دې ورځو کې د ملګرو ملتونو د سرمنشی ځانګړی استازی ددې خبرداری ورکړ چې ملګري ملتونه د افغانستان په کابینه کې د جنګ سالارانو زغم نه لري. نوې کابینه کیدلای شي چې په دریو ورځو کې اعلان شی. په دې اړه به د یوناما غبرګون څه وي که په نوي کابینه کې جنګ سالاران حضور ولري؟

**ښاغلی مبلغ:** لکه چې ما یادونه وکړه حکومت پخپلو دواړو ریپوټونو کې چې د یو پی آر په نامه یادیږي، د دغه ډول خشونتونو یادونه کړې ده او همدارنګه په هغو ریپوټونو کې چې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا خپورشوي دي د هغو یادونه شوي ده، خو زه د کومې خاصې قضیې په اړه ریوټ نه لرم.

**یوناما، علیم صدیق:** د راتلونکې کابینې د تشکیل په اړه ستاسې د دوهمې پوښتنې په ځواب کې. افغانستان یو خپلواک هیواد دی او د نوې کابینې په اړه ولسمشر حامد کرزی پریکړه کوي. مونږ دلته د یوناما په چوکاټ کې او نوره نړیواله ټولنه د دې لپاره دلته یو چې د دولت سره د زیاتو فشار راوړونکو ننګونو په برخه کې چې هیواد ورسره مخ دی په راتلونکو میاشتو او کلونو کې د نوي حکومت سره مرسته وکړو. په تیرو څو میاشتو کې تاسو به اوریدلی وي چې په پرله پسې ډول ځانګړي استازی او ما پخپله دا پیغامونه ورکړي دي چې مونږ یو با اعتباره همکار ته اړتیا لرو چې د هغه سره په راتلونکو کلونو او میاشتو کې کار وکړو. افغانستان با صلاحیته کابینې او وزیرانو ته اړتیا لري چې وکړای شي د افغانستان خلکو ته خدمت وکړي. په دې اړوند ځانګړی استازی په خاصه توګه دا جوته کړې ده چې مونږ داسې وزیرانو ته اړتیا لرو چې پر اصلاحاتو باورمند وي، مونږ غواړو چې تکنوکراتان وګورو چې د دی کار توان او صلاحیت ولري څو عامو افغانی وګړو ته خدمت وکړي. دا هغه کسان دي چې د افغانستان وګړي ورته د دوي د خدمت لپاره اړتیا لري او دا هغه کسان دي چې نړیواله ټولنه غواړي د هغوي سره کار وکړي. نو په دې ډول لکه ستاسی په څیر زیاته آرزو لرو چې مونږ له نږدی څخه په راتلونکو اونیو کې د افغانستان د کابینې اعلان واورو.

**د کلید راډیو:** د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی په اړه ستاسې د څیړنی په برخه کې د یادوونو په هکله غواړم وپوهیږم چې آیا داسې کومې شمیرې شته چې دا په ډاګه کړي چې څومره ښځې د دغو تیریو او خ تاوتریخوالواندي راغلی دي؟ د پوښتنې دوهمه برخه دا ده چې څرنګه چې تاسې یادونه وکړه چې خشونت د ښځو او نجونو پر ضد په توقیف ځایونو کې د جنسی تیریو په توګه تر سره شوي دي. آیا تاسی وییلای شئ چې دغه ډول تیری د پولیسو له خوا شوي او یا بل چا په توقیف ځایونو کې تر سره کړي دي؟

**یوناما د بشری حقونو څانګه:** دوه ډیری مهمې پوښتنې. مننه. په لومړنی څیړنه کې مونږ د دی مسلې په اړه دوه موضوعګانې تشخیص کړي. مونږ د الف څخه تر ی پوری نه ځو چې هغه مسلې وڅیړو چې د ښځو په وړاندې د تیری او تاوتریخوالی په برخه کې دي. نو هغه دوه موضوعګانې چې مونږ غواړو د هغو په اړه لږ څه وغږیږو ځکه چې دا د ټاکنو کال دي چې ښځې په عامه ډګر کې دي او هم دا چې د جنسی تیری مسله ده. اوس اجازه راکړئ چې د جنسی تیری د مسلې په اړه د خپل توان په اندازه وغږیږم. په هر هیواد کې د دغه ډول جنایت او جرم سره مقابله ډیره ستونزمنه مسله ده. موږ

پوهیږو څکه د دي مسلی په اړه زیات ممنوعیتونه او تحریمات شته. جنسی تیری د کورونو دننه او یا هم د کورنی څخه بهر تر سره کیږی. هغه څه چي مونږ يي بیا مومو هغه دا دي چي دغه ستونزه ډیره پراخه ده او دا د افغانستان په ټولنیز-اقتصادی ډګرونو کې ځای لري. دا نه یوازی په کرهنیزو – کلیوالی سیمو کې ده او نه هم یوازی په ښاري سیمو کې. د دي څخه ټولی ټولنی اغیزمنی کیږي. مونږ نیغ په نیغ پرته له دي چي موږ په ګردیز کې دغه څیړنه تر سره کوو او که په قندوز کې او یا هم په هرات کې نو دا یوه مهمه ستونزه ده. دا د پوښتنی یوه برخه ده.

د پوښتنی بله برخه دا ده چي ښځی په عامه ډګر کی کار کوی- دلته هغه جریان چي لیدل کیږی هغه دا دی چي د ښځو لپاره د کار چاپیریال تنګ کیږي. دا هغه څه دي چي زموږ دیتا ښیی. یو وار بیا وایم چي موږ اساسی معلومات نه لرو. خو مونږ دا په تیرو ۱۸ تر ۲۴ میاشتو په موده کو ولیدل. د ساری په ډول د پولیسو یو کارکوونکی ووژل شو، ځینی ژورنالستان ځانګړي خنډونو سره مخامخ دي. نو زمونږ پایله دا ښیی چي جریان په منفی ډول روان دی. په ټاکنو کې داسی شواهد هم شته چي د تیرو ټاکنو په پرتله د افغانستان په ځینو برخو کې د ښځو برخه اخیستنه ډیره لږه وه.

د پوښتنی بله برخه چي په توقیف ځایونو کې د ښځو پر ضد تیری وو، مونږ دا وموندله چي په زیاتره مواردو کې کله چي قربانی شوې ښځې پولیسو ته رپوټ ورکړي نو دوي په خپله ځان ته اضافی ستونزې رامنځته کړي دي. مونږ دا هم وموندله چي کله چي دوي په توقیف ځایونو کې وې او، چیرته چي دوي د محاکمی څخه مخکی هلته اوسي او همدارنګه په محبس کې، نو دوي کیدای شی تر جنسی تیری لاندی راشی.

**د طلوع ټلویزیون:** زه یوه پوښتنه د نورا نیلاند څخه لرم. تاسو په افغانستان کې د بشری حقونو حالت څه ډول ارزوئ په تیره بیا د هغو محبسونو حالت چي د بهرنیو ځواکونو تر کنترول لاندی دي. آیا هلته کوم تدبیرونه په دی اړه نیول شوي دي؟ دوهمه پوښتنه د ښاغلی علیم صدیق څخه د نوي کابینی په اړه ده. تاسو پخوانی کابینه څه ډول ارزوئ، او تاسو د دی شاهدان واست چي په تیرو کابینو کې یوازی وزیران د یو وزارت څخه بل وزارت ته تبدیلدل او که چیري دغه وزیران بیا هم په نوي کابینه کې پاتی وي، نو په دی صورت کې به د نړیوالو غبرګون څه وي؟

**د یوناما د بشری حقونو څانګه:** په واقعیت کې ستاسی پوښتنه ډیره ستره ده نو ځکه زه غواړم لنډ ځواب ورکړم. په مختصر ډول باید ووایو چي په افغانستان کې د بشری حقونو حالت د ډیرې اندیښنی وړ دی او دغه اندیښنه لا هم پاتې ده. د ا فغانستان وګړي د بشري حقونو په برخه کې د ډیرو زیاتو نیمګړتیاوو سره مخ دي. خو د دی سره سره بیا هم په مختلفو ډګرونو کې یو څه پرمختګ شته. دلته لا هم ډیری مسلی شته چي دهغو ستونزو حل ستونزمن دی چي هغه شتون لري. څرګنده ده چي دی کې

معافیت هم شامل دی چې ډیر پراخ دی. او ستاسی د پوښتنی دوهمې برخی ته به علیم صدیق ځواب ووایی.

تاسو د محبسونو او توقیف ځایونو او بهرنیو ځواکونو په اړه ځانګړي پوښتنه لرئ، نو اجازه راکړئ چې دا سره جلا کړو.

مونږ د بشری حقونو ټیم د غیر قانونی او پخپل سر توقیف کولو په اړه د سږ کال په لومړنیو کې یو رپوټ خپور کړ. هغه توقیف چې غیرقانوني دی او زه په بنسټیز ډول دا په دوو برخو ویشم. دلته ډیر فساد دی او دلته ډیر د کار د صلاحیت کموالی دی. د کاری صلاحیت د کموالي مسله به په اصل کې په ښه توګه د ښی روزنې په لرلو او نورو لارو حل شي. د فساد مسله ډیره ستونزمنه مسله ده. او لکه چې تاسو پوهیږئ دولت او نړیواله ټولنه په دي اړوند زیاتی اندیښنی لري. د پخپل سر او غیرقانونی توقیف په اړه مونږ په دی برخه کې د دولت جوړونی د لاری کار کوو څو وګورو چې په څه ډول دغه مسله حل کړو. او ښه مفاهمه، د بیلګی په ډول، د توقیف د چارو د چارواکو او د عدلي څانګې د کارکوونکو تر منځ پیدا کړو څو ستونزه په ښه توګه حل شی. هغه څه چې د جګړي د مهال د توقیف سره اړه لري او زما په فکر تاسو د بګرام یادونه وکړه او څرګنده ده چې دا یوازی بګرام نه دی بلکې دا د هیواد په کچه ده چې دا د ملګرو ملتونو او د پراخی نړیوالی ټولنې او افغانی ټولنی لپاره د اندیښنی وړ مسله ده چې د څه وخت را په دی خوا شته. د اوباما د اداری د راتګ له مهاله او د هغو هلو ځلو وروسته چې غواړي د ګوانتانامو توقیف ځای وتړل شی د دی سره د بګرام د باندي هم ښې اغیزې شوي دي او دا ښه خبره ده. که څه هم جوته ده چې دا کافی نه ده. او د ملګرو ملتونو له نظره، په هغه څه چې مونږ تمرکز لرو دا په ټولیز ډول یو قانونی چوکاټ دی. زه په دی دریځ کې نه یم چې د نړیوالی ټولنی او سره صلیب له خوا وغږیږم. خو هغوي د شرایطو او درملنې په برخو کې ډیر ښه کار تر سره کړی دي. نو په دي ډول ملګري ملتونه ډیر زیات او نیغ په نیغه د هغو چارواکو سره چې هغوي په بګرام کې د امریکې د متحده ایالاتو ځواکونه دي په دی مسله تمرکز کوو څو یو قانونی چوکاټ را منځته کړو. یا په بله اصطلاح توقیف شوي کسان باید مدافع وکیل ته رسیدنه ولري اوپه دی پوه وي چې هغوي ولی توقیف شوي دي او دا چې په کومه ورځ محکمی ته ځی.

**یوناما، علیم صدیق:** ستاسی د پوښتنی د دوهمی برخی په اړه، اجازه راکړئ چې یوه نکته څرګنده کړم او هغه دا چې یوناما په دي هیواد کې د کابینی په ټاکنه کې هیڅ ډول ونډه او رول نه لري. دا چې څوک پورته کیږی او څوک راکښته کیږي، موږ په مطلق ډول د دي سره علاقه نه لرو. داد افغانستان د ولسمشر او د ا فغانستان د خلکو د علاقی وړ او دنده ده. خو دا د یوناما او نړیوالی ټولنی له خوا واضحه شوی ده چې د نوي کابینی ترکیب باید داسی وي چې موږ ورسره په راتلونکې کې کار وکړای شو، په راتلونکو میاشتو او کلونو کې. مونږ غواړو یو داسی کابینه وګورو چې په دغه هیواد کې فساد له منځه یوسی، دا هغه څه دي چې دافغانستان خلک یې هیله لري، او دا هغه څه دي چې

نړیواله ټولنه یې هیله لري. مونږ غواړو د کابینی داسی غړی وګورو چې هغوي دلته د افغانستان د خلکو خدمت وکړي، نه دا  چې د افغانستان پر خلکو حاکمیت وکړي. او بلاخره موږ غواړو د کابینی داسی غړي وګورو چې وکړای شی په ټولنیزه کچه هغه خدمتونه سرته ورسوي چې په ډیره بی صبری سره ورته د هیواد په کچه،د کابل څخه بهر په ټولو ولایتونو کې، اړتیا لیدل کیږي. او مونږ وړاندي ګورو چې ولسمشر حامد کرزی به ډیر ژر کابینه تشکیل کړي. بله پوښتنه نشته، ډیره مننه، ښه دوشنبی تاسو ته غواړم.

--------------------------------------------